


# د پښتونخوا مقدمه

هدايت الله خان

څلورم اعتراض: د صوبه سرحد اولس د 1947 په رېفرنډم کښې د پښتونخوا مطالبه کوونکو له ماتې ورکړه او صوبه سرحد ئې د پاکستان سره شامل کړو.

پروفېسر کې کې عزيز يو معروف تاريخ دان دے چې دېرش کاله ئې د پنجاب، لندن، هائيډل برګ او خرطوم په يونيورسټو کښې زدکوونکو ته تاريخ ښودلے دے، هغه په خپل کتاب Murder of History (د تاريخ قتل) کښې د دې حقيقت نه پرده پورته کړې ده چې په پاکستان کښې د تاريخ سره ډېر ظلم شوے دے، دلته په تاريخ کښې صرف هغه خبرې ليکلې شوې دي، کومې چې د حکمران طبقو او خودساخته نظريه دانانو خوښې وې. هغه وائي چې په پاکستان کښې عوامو ته د اشتعال ورکولو او د دوي جذباتو راپارولو دپاره نيم لوستي کالم نګاران او "دانشوران" ډېر دي. په دې سلسله کښې د غور خبره دا ده چې په پاکستان کښې د تاريخ سره په دوو طريقو ظلم شوے دے، يو خو تاريخي واقعات په مکمله توګه مسخ کړے شوي دي او د خپلې خوښې شکل ورکړے شوے دے او دوېم دا چې د تاريخ نه د خپلې خوښې برخې راواخستې شي او سياق و سباق ترې اخوا کړے شي.

1947 کښې صوبه سرحد کښې د شوي ريفرنډم تاريخ هم د خپل سياق و سباق نه محروم د تاريخ سره د شوي ظلم يو پېداوار دے. د پښتونخوا د نوم په مسئله ليکونکي مخالف نيم لوستي کالم نګاران د دې ريفرنډم ډېره حواله ورکوي. دلته مونږ د ريفرنډم اصلي قيصه (untold story) بيانوو چې مخالفينو ته پته ولګي چې د پښتونخوا نوم د ايشو په حواله د دوي دا د ځانه جوړ کړے منطق به هيڅ کله کار ونۀ کړي.

1947 کښې چې کله په صوبه سرحد کښې د ريفرنډم اعلان وشو نو د باچا خان په مشرۍ کښې خدائي خدمتګارانو د دې مخالفت وکړو. د خدائي خدمتګارو يو اعتراض دا ؤ چې کله مسلم ليګ او کانګرس د تقسيم فيصله کړې ده او د کانګرس چې دوي ئې اتحاديان وو، مرکزي ورکنګ کمېټۍ د دې توثيق کړے ؤ نو دوي هم د دې فيصلې پابند دي او

په دې صورت حال کښې د ريفرنډم هيڅ منطقي جواز نۀ جوړيږي. دويم اعتراض دا ؤ چې کۀ د ريفرنډم مقصد د عوامو رائې معلومول وي نو هغه خو يو کال وړاندې عوامو په انتخاباتو کښې د واحد او واضح اکثريتي جماعت جوړولو په شکل کښې ورکړې وه نو داسې د شکست خوړلې مسلم ليګ له طرفه د پېرنګي په سرپرستۍ او نګرانۍ کښې د ريفرنډم د مطالبې او ډرامې څۀ جواز ؤ؟

په دې تناظر کښې په ريفرنډم کولو زور راوړلو نه د مسلم ليګ د مستقبل ارادې ښکاره معلومېږي. ستم ظريفي دا وشوه چې په ټول هندوستان کښې د مسلمانانو په اکثريتي صوبو کښې د هغوي د اسمبليو نه رائې واخستې شوه. د بنګال او پنجاب اسمبليو د دې صوبو د تقسيم منصوبې منظورې کړې او د سندهـ د اسمبلۍ نه هم د پاکستان په حق کښې رائې واخستې شوه. د سوچ خبره دا ده چې د صوبه سرحد د اسمبلۍ سره بالکل جدا رويه ولې اختيار کړې شوه. صفا خبره ده چې کۀ د صوبه سرحد د اسمبلۍ نه رائې اخستې شوې وے نو د خدائي خدمتګارو د اکثريت په وجه دا خبره يقيني وه چې د کوم آپشن په حق کښې دوي فېصله کړې وه نو هغه به د اکثريتي رائې په وجه منظوره شوې وه او ظاهره ده چې دا فېصله به د پاکستان په حق کښې کېده نو داسې به مسلم ليګيانو ته د پروپېګنډې هغه موقعه څنګه په لاس ورتله چې د کومې په بنياد به دوي په مستقبل کښې سياست کاوۀ. هغه پروپېګنډه دا وه چې خدائي خدمتګارو د اسلام په نوم د جوړېدونکي ملک د قيام مخالفت وکړو. په ريفرنډم د مسلم ليګيانو د زور راوړلو دويمه وجه دا وه چې دوي په هر قيمت د صوبه سرحد په حکومت قبضه کول غوښتل او ظاهره خبره ده چې د خدائي خدمتګارو د اکثريت په وجه د عدم اعتماد آئيني طريقه د دوي په وس کښې نۀ وه نو د خدائي خدمتګارو د بائيکاټ په صورت کښې د پېرنګي په سرپرستۍ کښې په اسانۍ د ريفرنډم ګټلو دعوي' کولو باندې د سرحد حکومت د استعفې يا ړنګولو غوښتنه اسانه او قابل عمل طريقه وه. د هغه وخت د صورت حال خلاصه دا ده چې خدائي خدمتګارو خپل موقف واضح کړے ؤ. چې دوي د تقسيم منصوبه منلې ده او د هندوستان آپشن ئې مسترد کړے دے چې ښکاره مطلب ئې د پاکستان په آپشن د امادګۍ او رضامندۍ اظهار ؤ. لېکن د دې باوجود چې کله مسلم ليګ او د پېرنګي ډلې د ريفرنډم د ډرامې کولو دپاره ضد کاوۀ نو خدائي خدمتګارو د ريفرنډم په سوالونو کښې د دريم سوال "ازاد پښتونستان" د آپشن د اضافې کولو غوښتنه وکړه چونکې دا غوښتنه مسترد کړې شوه نو خدائي خدمتګارو په مکمله توګه د ريفرنډم د بائيکاټ اعلان وکړو، دلته د غور خبره دا ده چې کله د خدائي خدمتګارو دا غوښتنه مسترد کړې شوه نو دغسې زوړ پوزيشن برقرار پاتې شو او په هغې خو موقف د وړاندې نه واضح ؤ نو ځکه د ريفرنډم نۀ خو څۀ جواز ؤ او نۀ ضرورت. د دې ټول بحث خلاصه دا ده چې يو کال وړاندې شوو انتخاباتو کښې سرحد اسمبلۍ کښې د خدائي خدمتګارو واضحه اکثريت، د نورو مسلمان اکثريت ابادۍ لرونکو صوبو په شان د دې اسمبلۍ نه هم د رائې اخستو حق، د خدائي خدمتګارو

بائیکاټ او د دې په نتیجه کښې په ریفرنډم کښې د مقابل قوت د عدم موجودګۍ په رڼا کښې د دې ریفرنډم هیڅ قانوني او اخلاقي جواز نۀ ؤ. سبوا د دې نه چې دغسې مسلم لیګیانو د پېرنګي په مرسته د سرحد په حکومت قبضه کول او خپل د اقتدار هوس پوره کول غوښتل.

راځئ چې اوس وګورو چې د پاکستان په تاریخ کښې چې د **1947** د کوم ریفرنډم چرچه ده، د اعداد و شمار په رڼا کښې د دې حقیقت او حېثیت څۀ ؤ، د دې اعدادو شمار سنجولو او د ریفرنډم د اصلي حقیقت نه د خبرېدو دپاره درې خبرې په ذهن کښې ساتل ډېر ضروري دي. یوه خو دا چې هغه وخت د عام بالغ رائې دهي حق موجود نۀ ؤ او ووټ به عام نه بلکې مخصوص ؤ، دوېمه دا چې د صوبه سرحد ابادي هغه وخت پنځۀ دېرش لکه وه. درېمه دا چې د صوبې مقبول ترین او واضح اکثریت لرونکې قوت خدائي خدمتګار تحریک د دې بائیکاټ کړے ؤ. دغسې دا یو اړخیزه کارروائي وه. په دې پس منظر کښې د اعدادو شمار تفصیل دا دے؟

| | |
|---|---|
| د ووټونو ټول شمېر | 572,799 |
| پول شوي ووټونه | **292,118** |
| د پاکستان په حق کښې ووټونه | **289,244** |
| د هندوستان په حق کښې ووټونه | 2,874 |

د صوبې د پنځۀ دېرش لکه ابادۍ کښې د ټولو ووټونو (**572,799**) صرف یو پنځوس ووټونه پول شو او د پاکستان په حق کښې پنځوس فیصده ووټونه راغلل. د دې ریفرنډم د حېثیت د تعین کولو دپاره د دې څو نور اړخونه هم د غور قابل دي. دا ریفرنډم صرف د پاکستان په شپږو ضلعو کښې شوے ؤ، د صوبه سرحد سره لګېدلې شپږ ایجنسۍ، قبائلي علاقې او تر دې چې سوات، دیر، چترال او د امب علاقې د دې نه بهر وې. د دې علاقو سره د صوبې ټوله ابادي کم نه کم اویا (**70**) لکه وه او په دې ابادۍ کښې د اچولې شوو ووټونو تناسب **4.2** فیصده ؤ او د پاکستان په حق کښې د اچولې شوو ووټونو شمېر **4.1** فیصده ؤ. د حق خود ارادیت د حق د بین الاقوامي اصولو مطابق دا ضروري ده چې دوه په درې یا پنځۀ اویا فیصده خلق د معاملې په حق کښې فېصله وکړي.

کۀ مونږ د صوبې د ټولې ابادۍ په ځائے صرف په پنځۀ دېرش لکه کښې هم د پاکستان حق کښې د اچولي شوي ووټونو تناسب وګورو نو دا **8.3** فیصده ؤ. د دې اعدادوشمار او حقائقو په رڼا کښې د دې ریفرنډم په یو اهم اړخ د پوهېدلو دپاره د دومره ډېر عقل ضرورت نشته او هغه دا چې خدائي خدمتګار تحریک هغه وخت په صوبه کښې د ایثار او قربانۍ په جذبه پُور معمور یو بې مثاله منظم قوت ؤ چې د پېرنګي غونډې جابر قوت سره ئې پنجه اچولې وه او د برصغیر د آزادۍ په تحریک کښې ئې د مېړانې او نرتوب نه ډکې مبارزې او قربانیو هغه تاریخ جوړ کړے ؤ کوم چې د بل سیاسي قوت په نصیب کښې نۀ ؤ. د څۀ وخت دپاره فرض کړئ چې کۀ خدائي خدمتګار تحریک د ریفرنډم بائیکاټ نۀ وے کړے او دا هم فرض کړئ چې باچا خان، د چا په یوه اشاره چې د خدائي خدمتګار تحریک سپاهیان خپل ځانونه قربانولو ته تیار وو، دوي ته د هندوستان په حق کښې د ریفرنډم کامیابولو ټاسک ورکړے وے نو په دې

خبره سرې په اسانه پوهېدې شي چې د دې ريفرنډم نتيجه به څۀ وه او دا مفروضه د پوره صوبې په بنياد هم نۀ بلکې صرف او صرف د پېښور، مردان، نوښار، چارسدې او صوابۍ په سيمو کښې کۀ خلقو د خدائي خدمتګارو په وېنا د هندوستان د آپشن په حق کښې د خپلو رايو اظهار کړې وې نو د دې نتيجه به څۀ وه، د دې ريفرنډم په حواله مونږ په دې کښې د شوې غلا غولتۍ او په يو اړخيزه توګه د پول شوو جعلي ووټونو او د خدائي خدمتګارو د دښمن انتظاميې د سرپرستۍ اړخ ونۀ چېړو، ځکه چې په تاريخي توګه مرتب شوي حقائق د دې د حېثيت واضح کولو دپاره پوره دي. د تېرو شپېتو کالو نه چې د ريفرنډم په دې ډرامه کښې د مسلم ليګيانو د کوم "بري" پروپېګنډه کولې شي د هغې بنياد صرف په دې خبره ولاړ دے چې د هغې سره تعلق لرونکي حقيقتونه د خپل سياق و سباق نه لرې د خپلو ناوړه هدفونو دپاره د دغې تاريخ د خپلې خوښې برخه په خپل تاريخ کښې محفوظه کړې ده چې د دې مسلسل ګردان د لوستونکو ساده ذهنونه په مکمل توګه متاثر کړي دي. د مخالفو دانشورانو او کالم نګارانو پوهه او دانش دې په دې سوچ وکړي چې دا ريفرنډم په خپل مذکوره پس منظر کښې د پښتونخوا د نوم د مخالفت جواز څنګه وړاندې کولے شي او په اخر کښې صرف دا چې د صوبې صرف په شپږو ضلعو کښې د شوي ريفرنډم په نتيجه کښې د مسلم ليګ "بري" ته برے او نن د پښتونخوا د نوم غوښتنه کوونکو مشرانو خدائي خدمتګارو د عدم شرکت په رڼا کښې د هغوي "ماتې" ته ماتې څنګه وئيلے کېږي.

پنځم اعتراض: په صوبه سرحد کښې د پښتنو نه علاوه نورې ژبې ويونکي هم په ګڼ شمېر کښې وسېږي او د پښتونخوا نوم سره به دلته لساني تعصب وده وکړي.

دا اعتراض د دې مسئلې د Substance سره تعلق لري. څنګه چې مونږ ووئيل چې په دې حواله د ټولو نه اهم ضرورت د دې مسئلې په نوعيت د پوهېدلو دے. د پښتونخوا د نوم مسئله بېخي لساني نۀ ده بلکې دا د يو قام د قامي شناخت او امتياز مسئله ده. د پښتونخوا لفظ معنې د پښتنو وطن يا علاقه ده. د دې معنې د پښتو ويونکو وطن يا علاقه نۀ ده. دلته يوه خبره واضحه کول ضروري دي چې د صوبه سرحد د ډيموګرافۍ په حواله د باچا خان د فلسفې مطابق د تاريخي لحاظه د دې په حدودو کښې اوسېدونکي ټول خلق د مذهب، ژبې او نسل د امتياز نه بغېر پښتانۀ دي. د باچا خان دا نظريه د اې اين پي او ټولو پښتنو قام پرستو د منشور برخه ده. په دې لحاظ هم د پښتونخوا نوم په صوبه سرحد کښې د مېشتوو هر مذهب، نسل او ژبې خلقو نمائندګي کوي. شمال مغربي سرحدي صوبه يا اين ډبليو ايف پي نوم پېرنګي دې صوبې ته د خپلو سامراجي مفاداتو لپاره ورکړے ؤ.

د فارورډ پاليسۍ په تناظر کښې دا علاقه يا د برټش انډيا شمال مغربي سرحد د دې سلطنت اهم ترين سرحد ؤ. هغه وخت د موجوده پاکستان پاتې نورې دوه صوبې پنجاب او سنده د برټش انډيا سرحدونه نۀ وو ولې د **1947** نه پس دا پوزېشن بېخي بدل شو او پنجاب سنده او بلوچستان ټولې صوبې د پاکستان سرحدونه شو. دغه شان په موجوده صورت حال کښې د پاکستان څلور واړه

صوبې د سرحد په حواله يو برابر دي. د يو ځائے، انسان يا څيز نوم د نورو ځايونو، انسانانو يا څيزونو د نوم نه بدل وي هم دا نوم د دوي ترمېنځه د امتياز ذريعه وي ځکه نو د دې صوبې د موجوده نوم هيڅ جواز يا منطق نۀ جوړېږي. د دې نه هم اهم او د توجه وړ اړخ دا دے چې د پېرنګي د تللو نه شپېتۀ کاله پس هم د هغۀ ليګېسي برقراره ساتل کۀ يو طرفته د قامي خپلواکۍ د غوښتنو خلاف خبره ده نو بل طرف ته د يو قام سره مسلسل او سراسر زياتے هم دے نو ځکه د پښتونخوا د نوم د غوښتنې سره د لساني عصبيت عنصر شاملول ډېره لويه بد ديانتي ده. البته کۀ تنګ نظره مخالفين د عوامو او په خصوصي توګه د هزارې د هندکو ويوونکو وروڼو د بې لارې کولو دپاره خامخا داسې کوي نو دوي له پکار دي چې په ځائے د دې چې دې مسئله کښې لساني تعصب ولټوي د پښتونخوا د نوم د غوښتنه کوونکو قام پرستو د پښتو ژبې په حواله د ماضي د کردار جائزه دې واخلي. 1947 کښې د بنګاليانو مشرقي پاکستان کښې بنګالي د سرکارې او قامي ژبې جوړولو غوښتنه وکړه. 1972 کښې په سندھ کښې د اردو او سندهۍ ژبو په معاملاتو لساني فسادات وشول، بل اړخ ته د 1947 نه وړاندې يا د دې نه پس خدائي خدمتګار، نېپ يا اې اين پي چې کله هم په اقتدار کښې راغلي ده نو په لساني حواله ئې همېشه د نان پشتو سپيکنګ برادرۍ سره د مروت، ورورولۍ، رواداريۍ او يووالي څرګندونه کړې ده او د خپله لاسه ئې پښتو ژبه د خپل جائز حق او مقام نه محرومه ساتلې ده. د دې قدرونو له وجې پښتنو قام پرستو همېشه د خپل اقتدار په دور کښې پښتو ته د سرکاري، دفتري او ذريعه تعليم

حېثيت ورکولو نه ځنډه کړې ده. د دې روښانه مثال د 1970 د انتخاباتو په نتيجه کښې جوړ شوي د نېپ حکومت هغه قدم دے چې اردو ئې سرکاري ژبه وګرځوله. دا خبره د ياد ساتلو ده چې د نېپ يا اې اين پي نه همېشه د خپلو حمايت کوونکو يا ټولو قام پرستو خلقو دا ګيله وي چې دوي تل پښتو د خپلې سرپرستۍ نه محرومه ساتلې ده، ځکه نو دا مسئله نۀ خو د کومې خاصې ژبې ده او نۀ د ژبې د ويونکو، بلکې دا په صوبه سرحد کښې د مېشتوو هغه ټولو خلقو د قامي شناخت مسئله ده کوم چې په نسلي يا تاريخي او سياسي توګه پښتانۀ دي. د دې نوم غوښتونکي په صوبه کښې د ميشتوو خلقو د ژبې په بنياد د وېشلو قائل نۀ دي. په اصل کښې دې مسئلې ته لساني رنګ ورکوونکي هغه خلق دي کوم چې د خپلو ناوړه مقاصدو دپاره د صوبه سرحد په خلقو کښې لساني تفريق او نفاق پېدا کول غواړي. بهر حال د ژبې په بنياد خبره کوونکي دې دې پله پام وکړي چې پاکستان يا د دنيا په کومه بله علاقه کښې چرته هم سل فيصده د يوې خاص ژبې ويونکي نۀ وسېږي، هر ځائے کښې نسبتاً وړوکے يا لوئے اقليت د نورو ژبو هم ورسره آباد وي.

د پنجاب او سندھ نه علاوه چرته چې د پنجابي ويونکو قومونو سره پښتو، بلوچي او سرائيکي ويونکو ګڼ شمېر اباد دے، د بلوچستان مثال ډېر واضحه دے، بلوچستان کښې د بلوچو نه علاوه د پښتنو شمېر نزدې نزدې د دوي برابر دے خو د دوي ترمېنځه د يو ځائے اوسېدو باوجود ژبه د جنګ جګړې سبب نۀ ده جوړه شوې. دغه حال په پنجاب کښې د پنجابۍ او سرائيکۍ هم دے. دلته يوه بله اهمه نکته هم راوړاندې کول ضروري دي، دا

ډېره د افسوس خبره ده چې د پښتونخوا مخالفین د ژبو په حواله د صوبه سرحد د ابادۍ په حقله انتهائي مبالغه آمېز اعدادوشمار خوروي. دا ډېره ضروري ده چې په صوبه سرحد کښې د میشتوو مختلفو ژبو ویونکو تناسب د مصدقه او مسلمه اعدادوشمار په بنیاد ورکړے شي. د پښتو ویونکو د اکثریت نه علاوه په صوبه سرحد کښې چې کومې نورې ژبې وئیلے کېږي په هغې کښې هندکو، کوهستاني، ګوجرو، چترالي، سرائیکي، بلوچي، سندهي، اردو او پنجابي ژبې شاملې دي.

(نور بیا)

(د امجد شهزاد ترجمه)